

د غم دروند پیټی د پښتو په لر او بر پر یوتو

چه په یو وخت د پښتو ستوري او قمر پر یوتو


Bi Monthly "DASTAR" International

دوه میاشتینی

# دستار

انټرنېشنل

چیف اېډیټر - پروفیسر جهانزیب نیاز

اېډیټر - سید صابر شاه صابر




د لري پښتو نخوا د پښتو د لوي کورر (کابل) لوي سفر

سکندر اعظم او پښتانۀ

خوشحالیات او حقائق

یوه ورځ د اکا بابا میله کښي

د "سر یتوب" هدایتکار خټک صیب هم لاړو





د ایسورود ملنګ خان د کنډر کنډر مزار دیدار



ډاکټر کبیر ستوري ماما هم پوره کړه



په شاعرۍ کښې د حقیقت او مجاز بیلتون

بازید انصاري......ادب او تحریک

هغه ده ټانګه راغله...... سپینه پتاسه راغله

ڈاکٹر کمال پشتونوں کا ایک بڑا اصلاحی کردار

# دري مړونه

د اپرېل په میاشت کښې د پښتو د قلم قبیلې دري سرخېل لیکوال د بره پښتونخوا ډاکټر کبیر ستورے، د ډاکټر شېرزمان طائزے رور قمر زمان طائزے او د مرحوم تقویم الحق کاکاخېل رور روغ لېونے (سید تکریم الحق کاکاخېل) وفات شو. هم دغسې د زلمي شاعر او صحافي رحمان بونیري ترۀ هم وفات شوے دے. اداره د دغو ټولو مرحومینو غم زپلو سره ژوره غمرازي کوي، او د دوئ د مغفرت لپاره دُعا کوي.

اداره

# ژوندۍ ژبه

**خان عبدالغفار خان**

پښتانهٔ اوس هم د اخبار لوستو شوق نه لري په چتي څيزونو په بې ځايه رواجونو په زرګونو روپۍ خرڅ کوي خو په اخبار يا رساله يوه پېسه نه ورکوي. او هم دا وجه ده چې د دومره بهادر اولوئے قام پخپله ژبه کښې يو قومي اخبار نشته. زمونږ يو لوئے خان وو. يوه ورځ ئې په ښار کښې يو هلک ليدلے دے چې اخبارونه ورسره دي. او چغې وهي چې اخبار واخلئ. خان صاحب ګمان کړے دے چې دا ګوند وېريا دي اخبار ئې ورنه اخستے دے خو چې هلک ورنه پېسې اوغوښتې دهٔ اخبار بېرته ورکړو. چونکې زمونږ اخبار سره مينه نشته نو ځکه زمونږ پخپله ژبه کښې اخبار هم نه وو. څنګه چې ئې د اخبار سره مينه نه وه دغسې ئې د خپلې ژبې سره هم مينه نه وه. د تعليم يافته کسانو سره به مې چې د ژبې په باره کښې خبرې اوکړې نو راته به ئې وئيل چې پښتو لا د څهٔ ژبه ده. په دې کښې علم نشته، پښتو کښې څهٔ دي. ما به ورته وئيل چې هلکه دا نورې ژبې خو د آسمانه نهٔ دي راکوزې شوې د هرې ژبې ويونکو خپلې ژبې ته ترقي ورکړې ده. پښتنو چې خپلې ژبې ته توجه نه ده کړې دې کښې د پښتو ژبې څهٔ ګناه ده دا خو زما او ستا ګناه ده.

پښتون ژوندے قام دے او پښتو د ژوندي قام ژبه ده. خو چې د ژوندي کولو خلق پکښې پېدا شي. ترڅو چې په يو قام کښې د ژوندي کولو دپاره خلق پېدا نهٔ شي هغه قام او هغه ژبه ژوندۍ پاتې کېدے نهٔ شي کوم قام کښې چې مېړانه او د قربانۍ ماده پاتې نهٔ شي. هغه به تل د بل تورې ته ګوري.

(زما ژوند او جدوجهد صفحه ۸۲)

---

## ډاکټر کبير ستوري "ماما" هم پوره کړه

نوموړے قوم پرست ليکوال، شاعر، ساپوه (Diplomat_- Psychology) ډاکټر کبير ستورے پهٔ جرمني کښې وفات شو، د کونړ د ميردا د خېلو دا روښانه تابانه "ستورے" د پښتو له پاره تول غنيمت غنيمت وو. موصوف پهٔ جرمني کښې د پښتون سوشل ډېموکرېټک ګوند بنياد اېښے وو. او د دې "تحريک" د سيوري لاندې به ئې د پښتو او پښتون د بقاء، سلامتيا له پاره هلې ځلې کولې. د ے ۲۴ کلن پښتون د پښتو ګڼ شمېر کتابونه ۱. سندريز پېغام. ۲. د هوښيارتيا تله. ۳. خوږې مسرۍ. ۴. وېره. ۵. ژوندي خيالونه. ۶. د قلم توره او نور ليکلي دي. د نوموړي تابوت اول پېښور ته راوړے شو. په اوم اپرېل ئې دلته جنازه وشوه. او بيا خپل پلارني وطن ته يوړے شو، د هغهٔ پهٔ جنازه کښې د افغانستان زرګونو پښتنو او سرکاري اهلکارانو برخه واخسته. روستو ئې پهٔ پېښور کښې فاتح واخستې شوه. چې پکښې افضل خان لالا، پروفېسر جهانزېب نياز، فېروز خان افريدي، حاجي غلام احمد بلور، لائق زاده لائق، لياقت سيماب، سيد صابر شاه صابر، خيال محمد، اجمل خټک، انور خيال او نور ګڼ شمېر نوموړو برخه واخسته. د مئ د مياشتې پهٔ اوومه نېټه د پېښور پهٔ پرېس کلب کښې د عالمي کانګرس پښتونخوا د سيوري لاندې د ډاکټر کبير ستوري او قمر زمان قمر طائزي پهٔ ياد کښې يو دروند سيمينار هم وشو، ددې سيمينار صدارت ډاکټر شېر زمان طائزي وکړو. مشر مېلمه ئې افضل خان لالا وو او کوربه ئې پروفېسر جهانزېب نياز وو، قدرمن لائق ذاده لائق، جناب فاروق فراق، ارشد خان ايم پي اے، مبارز ساپي (جرمني) اصف صميم او ډاکټر بصير ستوري پکښې د نوموړو پهٔ ژوند فن او شخصيت مقالې واؤرولې. د دستار اداره د ډاکټر کبير ستوري او قمر زمان طائزي مړينې د پښتو له پاره لويه ضايع ګڼي. (اداره)

Bi Monthly "DASTAR" International

دوه میاشتینی
# دستار
انټرنیشنل

چیف اېډیټر - پروفیسر جهانزیب نیاز
اېډیټر - سید صابر شاه صابر

چلونکی DIRECTORS

حاجی گلزار خان اورکزے
(چئیرمین، پاک پښتو ادبی تولنه دوحه قطر)

حاجی مکرم خان اشرف
(وائس چیئرمین پاک پښتو ادبی تولنه دوحه قطر)

حاجی فیروز خان افریدے
(صدر، پاک پښتو ادبی تولنه دوحه قطر)

زرک
(ملت پرنټرز لاهور)

سرپرسته جرګه

حاجی وزیر بادشاه جانان
أمت حسن بنګش
عید وزیر جار
ملتان خان همت اورکزے
حسن عطشان
جاوید همدرد
نیاز مومند
دلاور خان
امتیاز افریدی
حاجی نورزادین سپرلے
رشید ګل تنها

د خط و کتابت درکونه

دفتر دستار پروفیسر جهانزیب نیاز پلازه بورډ بازار پېښور.
فون. 092-091-5842423

سید صابر شاه صابر ، غریب اباد تهکال پېښور .
فون. 092-091-5842807
موبائیل. 0300-5918263

## د پاک پښتو ادبي ټولنې دوحه قطر نمائنده مجله

اپریل ....مئی ۲۰۰۶ء (دویم کال اوومه ګنه)

ددې ګڼې بیعه په پاکستان کښې ۵۰ روپۍ

**مرستیال:**

| | |
|---|---|
| سراج بهادر ساغر یوسفزے | دوحه قطر |
| حاجی مسافر خان هلال خیل | پېښور |
| سراج آفریدی | بوره |
| مسلم خان وصال | دیر |
| محمد شعیب صادق | مردان |
| ملک میر عالم خان افریدے | باړه |
| سلطان خان افریدے | جمرود |

**اکائونټ:** 24492-0

حبیب بنک ، جمرود روډ پېښور یونیورسټی کیمپس برانچ.

**قانونی مشیر:**

ظهور الحق

e.mail-
bimonthlydastar@yahoo.com
feroz@qatar.net.qa

سنهٔ ده دستارد پښتون فن چې شومه
سنهٔ ده اے تخته چې تاجدار نه شومه
ایاز داؤد زے

د دستار د اداره د هر لیکونکي د خیال سره متفق
کېدل ضروری نهٔ دي.

دستار په ملت ابجوکیشنل پرنټنګ پریس لاهور کښې چاپ شوه
او د دستار دفتر پروفیسر جهانزیب نیاز پلازه بورډ بازار پېښور نه
خوره شوه.

**Bi Monthly "DASTAR" International**

دوه میاشتینۍ

# دستار

انټرنېشنل

چیف اېډیټر - پروفیسر جهانزیب نیاز

اېډیټر - سید صابر شاه صابر



**اه د مهرونش خان صدیقي د ژوند مشال هم مړ شو**


**اختر دې مبارک شه**

**د سپوږمۍ د شپېږ ملګې**

**افغانستان نن او پرون - یو جاج**

**غني خان او مفتون یو روح دوه نامې**





بدر منیر ډیر ښهٔ اداکار دې خو قابلیت او صلاحیت په آصف خان کښې زیات دې



**د یو وی آئی پی جنازه**



زهٔ د دشمنۍ اور د مینې تاوؤ ته نه یم پرېښې (ډبنګي سره مرکه)

**د تخت بهائي د کنډراتو سېل**

**دا ما شوم د چا دې؟**

**او زهٔ د پښتو د ږومبي فلم هیرو هم یم (امان خان سره انټرویو)**



**د دستار چیف اېډیټر په جرمنۍ کښې**

## د دستار چیف ایډیټر جرمني کښې

د پښتو ژبې وتلي او پیاوړي لیکوال، شاعر، څېړنکي او د "دستار" مجلې چیف ایډیټر د غني خان د ادبي، کلتوري او څېړنیزې جرګې مشر، د پښتو عالمي کانګرس چیئرمېن ښاغلي پوهاند جهانزېب نیاز په ۲۱-۰۹-۲۰۰۷ نېټه جرمني ته راورسېدو.

د ښاغلي پوهاند نیاز د هرکلي دپاره د پښتنو ټولنیز ګوند مشر سلاکار ښاغلي حاجي فضل الرحمن شېر، جنرال سکرټر ښاغلي هدایت بنګښ، د کورنیو چارو مشر ښاغلي مبارز څاپي، د ښځو د چارو مشره مېرمن ښاپېرۍ شینواري، د خپرونو چارو مشر ښاغلي عزیز سرشار، د مشر تابه دفتر مرستیال ښاغلي حاجي نصیر ستوري او ښاغلي ډاکټر ماخان شینواري او نسیم خان ستوري راغلي وو. او د نظریو بدلون ئې هم وکړو.

ښاغلي پوهاند نیاز د پښتني کلتور خدمت ته ملا تړلې ده. د خپل کلتور د بډاینې لپاره ئې ډېرې لیکنې او ارزښناک کتابونه ټولنې ته وړاندې کړي دي. دے به د پښتنو ټولنیزولسولیز ګوند د مشرانو د جرګې د غړو سربېره د پښتنو ادیبانو، لیکوالانو او شاعرانو سره د جرمني په بېلا بېلو ښارونو کښې لیدنې کتنې خبرې اترې او د نظریو بدلون کوي.

پوهاند جهانزېب نیاز به د شنبې یا خالي په ورځ په ۲۳-۰۹-۲۰۰۷ نېټه په فرانکفورټ کښې په هغه غونډه کښې ګډون کوي چې د دۀ په ویاړ جوړه شوې ده.

ادارېه

## د " دستار " د چیف ایډیټر هر کلے

د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند Pashtoons Social Democratic Party (PSDP) د فرانکفورت خانګې د محمد اقبال لالا په دفتر کښې د دستار چیف ایډیټر پروفیسر جهانزیب نیاز په ویاړ غونډه جوړه کړه. په غونډه کښې د PSDP مشرانو د جرګې غړو او ملګرو سربیره پښتنو لیکوالانو او شاعرانو هم ګډون کړے وو.

غونډه د روژې مبارکې میاشت په لومړۍ ورځ په ۲۳-۰۹-۲۰۰۲ نېټه د مازیګر په څلورو بجو پېل شوه. د پښتنو او د سیمې په حالاتو هراړخیزه رڼا واچول شوه.

مشر مېلمه ښاغلي پروفیسر جهانزیب نیاز د پښتنو په قامي وحدت او ورورولۍ زور واچولو.

دهٔ زیاته کړه چې د پښتو ژبې او کلتور د ودې، پراختیا او پرمختیا لپاره باید ټول لر او بر پښتانهٔ د زړهٔ د اخلاصه کار وکړي او یو بل سره اړیکې وساتي او لاسونه ورکړي. په دې حقله ئې د خپل خان له اړخه پوره پوره داد ورکړو او د حاضرینو تپوسونو ته ئې خوابونه ورکړل.

ښاغلي پوهاند نیاز صیب چې یو سپېځلے پښتون دے د خپل ژوند په اتیا کلنۍ عمر کښې هم د پښتنې کلتور، ژبې او ادب چوپړ ته د خپل ژوند تر اخري سلګۍ پورې په پوره ایمانداري او مېړانه ملا تړلې ده. که څهٔ هم دې سپین ږیرے دے خو حوصله، زغم، عزم او اراده ئې پیاوړې او ځوانه ده. د خدائي خدمتګارو د غورځنګ د لارې مل او په دې لاره کښې ئې ډېر تکلیفونه او جېلونه هم تېر کړي دي. په

رګونو کښې ئې پښتنه وینه بهیږي، زړهٔ ئې پښتون دے.

ارزښناکې لیکنې ئې کړي او یو شمېر کتابونه ئې ټولنې ته وړاندې کړي دي. ښاغلي پروفیسر نیازکه له یوې خوا د "دستار" مجلې په پېل کولو سره د پیاوړي لیکوال او شاعر ښاغلي صابر شاه صابر او د ملګرو په هلو ځلو د پښتنې کلتور ګلبڼ ښکلے او تازه کړي نو له بلې خوا د پښتنو د ستر فلسفي غني خان د پښتو ادبي، کلتوري او څېړنیزې جرګې د مشر په توګه د خپل کلتور د بډاینې او سمسورتیا په خاطر ډګر ته راوتلي دي او د دې تر څنګ د پښتو عالمي کانګرس د چیئرمېن په توګه ذمه واري هم په غاړه لري. د دې ټولو مصروفیاتو سره سره د پښتنو د سوکالۍ، آبادۍ، د پښتو ژبې او پښتنې کلتور د پرمختګ په خاطر هر ځائے پښتنو ته خان رسوي، د امریکا او انګلستان د سفرونو څخه وروسته د خپلې بې کچې مینې او خلوص له امله ئې په ۲۱-۰۹-۲۰۰۲ نېټه جرمني ته هم ځان راورساوهٔ.

د پښتنو ټولنیز و لسولیز ګوند د مشرانو د جرګې یو شمېر غړو سربیره ئې د ځنې پښتنو لیکوالانو، ادیبانو او شاعرانو سره د کولن، بن او فرانکفورت په ښارونو کښې لیدنې کتنې او د نظریو بدلون وکړ. د غونډې برخه والو د دهٔ کلتوري هلې ځلې وستائیلې او دهٔ ته ئې د خپل ملاتړ داد ورکړو. غونډه د مازیګر په شپږ نیمو بجو پائې ته ورسېده.

اداریه —

Bi Monthly **"DASTAR"** International

دوه میاشتینۍ

# دستار

انټرنیشنل

**چیف ایډیټر - پروفیسر جهانزیب نیاز**

**ایډیټر - سید صابر شاه صابر**

## چلونکی DIRECTORS

**حاجی گلزار خان اورکزے**

(چئیرمین، پاك پښتو ادبی ټولنه دوحه قطر)

**حاجی فیروز خان افریدے**

(صدر، پاك پښتو ادبی ټولنه دوحه قطر)

## سرپرسته جرګه

حاجی وزیر بادشاه جانان

حاجی نورزادین سپرلے

اُمت حسن بنګش

ملتان خان همت اورکزے

نیاز مومند

دلاور خان


**د خط و کتابت درکونه**

دفتر دستار پروفیسر جهانزیب نیاز پلازه بورډ بازار پیښور.

فون. 092-091-5842423

سید صابر شاه صابر ، غریب اباد تهکال پیښور.

فون. 092-091-5842807

موبائیل. 0300-5918263


د پاک پښتو ادبي ټولنې دوحه قطر

نمائنده مجله

## مهر و نیش خان صدیقی نمبر

اکتوبر،نومبر،دسمبر ۲۰۰٦ء (دویم کال لسمه ګڼه)

دديِ ګڼې بيعه په پاکستان کښې-/50 روپۍ

**مرستیال:**

| | |
|---|---|
| سراج بهادر ساغر یوسفزے | دوبۍ |
| حاجی مسافر خان هلال خیل | پېښور |
| سراج آفریدی | بوره |
| مسلم خان وصال | دیر |
| محمد شعیب صادق | مردان |
| ملك میر عالم خان افریدے | باړه |
| سلطان خان افریدے | جمرود |
| ګل محمد مسرور | چارسده |

**قانونی مشیر:**

**بیرسټر ظهور الحق**


e.mail-
bimonthlydastar@yahoo.com
feroz@qatar.net.qa


ښـهٔ خـویـونـه چـې هـر خـوا لـري بسیار وي
داسـې کـس لـره ښـا ئیري چـې دستـار وي

**د دستار د ادارې د هر لیکونکي د خیال سره متفق کېدل ضروری نهٔ دي.**


دستار په ملت ابجوکیشنل پرنټنګ پریس لاهور کښې چاپ شوه او د دستار دفتر پروفیسر جهانزیب نیاز پلازه بورډ بازار پیښور نه خوره شوه.